د رسول الله - صلى الله عليه وسلم - څخه د سحر او جادو درملنې او يا پيريانو ويستلو د اړه پوښتنه وشوه؟ نو ويې ويل (چې دا د شيطان له کړنو څخه دي.(١

له جابر - رضي الله عنه - څخه روايت دی چې له رسول الله - صلى الله عليه وسلم - څخه د (نشره) يعنې- د جادو خلاصول په جادو سره- اړه پوښتنه وشوه؟ نو ويې ويل چې دا د شيطان له کړنو څخه دي.

[صحيح] [ابوداود روايت کړی دی - احمد روايت کړی دی]

له رسول الله (صلى الله عليه وسلم) څخه د جادوګر د علاج په اړه پوښتنه وشوه چې د جاهليت په زمانه کې به په هغه طريقه کارول کېده لکه: جادو د جادو په واسطه خلاصول چې د دې حکم څه دی؟ هغه - صلى الله عليه وسلم - ځواب ورکړ: دا د شيطان کار دی يا د هغه له لارې کيږي؛ ځکه چې دا په بل ډول جادو او نورو شيطاني کړنو په کارونې سره کيږي، دا شرک او حرام دی. او د جادو مشروع ويستل، هغه دي چې په شرعي دم سره وويستل شي او يا يې په اړه پلټنه وشي، او په لاس سره يې خلاصول د قرآن کريم د لوستلو او روا درملو سره جايز دي.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/3402